# افغانستان؛ د وارداتي بر ېښنا بندولو ګواښونه

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز - کابل

**تحليل** CSRS | **شماره:** ۳۵۳

۱۸ اسد ۱۳۹۹ هـ ش / 08 Aug 2020


**ويبسايت:** www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

**ايميل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com


**لطفا نظريات و پيشنهادات خود را جهت بهبود مطالب اين نشريه با ما شريک سازيد.**

---


[لومړی تحليل]

[دويم تحليل]

# افغانستان؛ د وارداتي برېښنا بندولو ګواښونه



د روان کال اسد میاشتې په پینځمه نېټه د افغانستان برېښنا شرکت په ناڅاپي توګه خبر ورکړ چې د سهار 7:30 بجو څخه راوروسته د اوبو کمښت له امله له تاجکستان څخه وارداتي برېښنا کچه د 350 میګا واټ څخه 40 میګاواټو ته راښکته کېږي.[1] په دې کار سره د پلازمیني کابل او یو شمېر نورو سیمو اوسېدونکي د برېښنا د نه شتون له سختې ستونزې سره مخ شول.

په تېرو دوو لسیزو کې په لویه کچه ترسره شویو مرستو سربېره لا هم په داخل کې د تولید کچه د نشت برابره ده؟ افغانستان به تر کوم وخت پورې په داخلي برېښنا بسیا شي، او وارداتي برېښنا به ترکوم وخت داخلي اړتیا پوره کړي؟ په یادو موضوعاتو دلته شننه شوې ده.

## وارداتي برېښنا آخر تر کله؟

په داسې حال کې چې هره میاشت افغانستان د تاجکستان په ګډون ازبکستان او ایران هېوادونو ته د برېښنا واردولو په بدله کې 25 میلیون ډالر ورکوي چې په کلني حساب 300 میلیون ډالر کېږي. څو ورځې وړاندې په ناڅاپي توګه د تاجکستان هېواد له لوري افغانستان ته صادرېدونکې برېښنا لېږد

[1] https://main.dabs.af/News/NewsDetail/3470

Center for Strategic and Regional Studies (Kabul)

په یاد هېواد کې د اوبو کموالي له امله د 350 میګاواټ څخه 40 میګاواټو ته رانښکته شوه. د تاجکستان حکومت له دې ګام اخیستو وروسته د برېښنا شرکت خبر ورکړ چې له ازبکستان څخه به د 400 میګاواټو په کچه برېښنا هېواد ته راولېږدوي. په داسې حال کې چې د برېښنا صادروونکو هېوادونو له جملې ازبکستان بیا څو میاشتې وړاندې ګواښ کړی وو که د برېښنا مصارف له وړاندې ور نه کړل شي نو په افغانستان به خپله برېښنا بنده کړي. دا کار د دې څرګندوییي کولی شي چې افغانستان ته د برېښنا نور صادرونکي هېوادونه خپلو اړتیاوو ته په کتو چې هر وخت وغواړي ورته ګامونه اخیستلی شي او افغانستان چې دا مهال یوازې 30 سلنه وګړي یې برېښنا ته لاسرسی لري له برېښنا بې برخې کولی شي. تردې دمه د وارداتي برېښنا لېږد په برخه کې په میلونونو ډالر مصرف شوي، که چېرته یاد مصارف په داخل کې د برېښنا تولید لپاره د اوبو په بندونو جوړېدو په برخه کې په اغېزناکه توګه لګېدلي وای نو لرې نه وه چې اوسمهال به له 30 سلنه زیات وګړي له داخلي برېښنا څخه ګټه پورته کړای وای.

د بهرنیو مرستو کمېدلو ترڅنګ د هېواد کمزوری اقتصادي وضعیت ته په کتو لرې نه ده چې برېښنا واردوونکو هېوادونو ته په خپل وخت د پیسو د نه ورکړې په صورت کې د برېښنا لېږد کچه نوره هم ټیټه شي.

له تېرو دوو لسیزو راپدیخوا افغان چارواکو او په ځانګړې توګه د برېښنا شرکت یوازې تشې وعدې ترسره کړې او د اوبو هغو بندونو جوړولو کې پاتې راغلي کوم چې د برېښنا تولید لپاره ترې باید کار اخیستل شوای وای.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## د برېښنا داخلي بندونه؛ د ستونزې بنسټيز حل

په داسې حال کې چې افغانستان د 318 ګیګا واټ برېښنا تولید ظرفیت لري[2] دا مهال تقریباً 80 سلنه برېښنا له بهرنیو هېوادونو څخه واردوي او د 2500 میګاواټ په شاوخوا کې برېښنا ته اړتیا لري. یوازې د کابل ولایت برېښنا اړتیا له 750 میګاواټو څخه اوړي، په داسې حال کې چې او سمهال یوازې 450 میګاواټ برېښنا ته لاسرسی لري. د برېښنا نه شتون نه یوازې داخلي پانګونه بلکې د بهرنۍ پانګونې د راتګ مخه ډبه کړې ده. دا چې د افغانستان 75 سلنه وګړي په کلیوالو سیمو کې اوسېږي یوازې 9 سلنه وګړي په یادو سیمو کې برېښنا ته لاسرسی لري په داسې حال کې چې د هېواد 67 سلنه ناخالص کورني تولیدات له یادو سیمو لاسته راځي[3]. د داخلي اوبو بندونو جوړېدو چارې د بېلګې په توګه د پکتیا ولایت احمد آباد ولسوالۍ اړوند مچلغو بند چې چارې یې نهه کاله وړاندې په 1390 کال کې پیل شوې او تمه ښودل شوې وه چې د درې کلونو په موده کې به ګټې اخیستنې ته چمتو شي د فساد له امله یې کارونه وځنډېدل. د یاد بند جوړېدو چارې د دویم ځل لپاره په 1396 کال کې یو بل روسي شرکت او د درېیم ځل لپاره دا دی د یاد بند جوړېدو چارې د جمهوري ریاست عملیاتي ادارې ته وسپارل شوې او د امنیت ټینګښت په صورت کې یادې ادارې تمه ښودلې چې په راتلونکو 16 میاشتو کې به یې چارې بشپړې کړي. د یاد بند جوړېدو چاره د یو منظم پلان شتون په صورت کې کېدلی شوای، کلونه وړاندې ترسره شوای وای خو لیدل کېږي چې د 1.1 میلیارد افغانیو مصرف وروسته لا هم د مچلغو بند چارې یوازې 7 سلنه ترسره شوې دي[4].

له دې پرته د یو شمېر نورو داخلي بندونو جوړېدو چارې هم څو څو ځل یوازې په نمایشي بڼه پیل شوي خو په پراخه کچه فساد له امله یې د بشپړېدو چارې له ځنډ سره مخ کړي دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[2] https://www.sciencedirect.com/science/article/pii/S2352484717303219
[3] https://www.adb.org/sites/default/files/linked-documents/47282-001-ssa.pdf
[4] https://www.pajhwok.com/en/2020/08/03/decade-7pc-work-dam-costs-1b-afs

که افغان حکومت په رښتونې توګه غواړي ترڅو د برېښنا ستونزې ته په داخلي توګه په بنسټیزه توګه حل لاره پیدا کړي، تر هر څه لومړی دې د وارداتي برېښنا په برخه کې د فساد مخه ونیسي. ځکه یو شمېر دولتي او خصوصي اداري شتون لري چې د کلونو کلونو راهیسې د برېښنا مصارف نه پرېکوي[5]، د دې لپاره چې برېښنا شرکت د داخلي برېښنا تولید ته پاملرنه زیاته کړي صادرونکو هېوادونو ته د پیسو د ورکړې په برخه کې ځان مصروفوي او بهرنیو هېوادونو ته د پیسو د ورکړې لپاره افغان حکومت دې ته اړ کېږي ترڅو له ملي بودیجې هغه پیسې پرې کړي، چې د فساد له امله برېښنا شرکت ته نه ورکول کېږي. دا چاره د هېواد کمزوری اقتصادي وضعیت نور هم له خنډونو سره مخ کوي او د داخلي بندونو جوړېدو چارې د کمزوري اقتصادي وضعیت او فساد له امله نورې هم نامعلوم راتلونکې ته غځېږي، او په وارداتي برېښنا تکیه کولو ته لاره هوارېږي.

نړیواله ټولنه باید د افغانستان داخلي برېښنا تولید په برخه کې نه یوازې مالي مرستې ترسره کړي، بلکې اړینه ده ترڅو په اغېزناکه توګه د برېښنا تولید په برخه کې هر اړخیزه څارنې لپاره هم لاس په کار شي. د برېښنا ماسټر پلان چې په 2004 کال کې جوړ شو بیا کتنې ته اړتیا لري چې ولې تر دې دمه هېواد ته د پراخو مرستو راتګ سره سره بیا هم د داخلي تولید کچه ډېره کمه ده؟ په دې کې شک نه شته چې د داخلي بندونو جوړېدو په برخه کې امنیتي ستونزې شته، مګر افغانستان د اوبو بندونو سربېره کولی شول د لمریزې او بادي برېښنا تولید په برخه کې ښې لاسته راوړنې درلودلې وای، مګر لیدل کېږي چې د کمزوریو پالیسیو له امله په یادو برخو کې هم اغېزمن ګامونه نه دي اخیستل شوي.

د دې لپاره چې د داخلي بندونو د نه جوړېدو په بنسټیزو حل لارو غور وشي زیاتره وخت چارواکي هڅه کوي امنیتي ستونزې بهانه وګرځوي او د بندونو جوړېدو په برخه کې امنیت لوی خنډ ګڼي. خو وروستۍ څېړنې ښیي د بېلګې په توګه د مچلغو بند جوړېدو په لومړیو څلورو کلونو کې هیڅ ډول

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[5] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-52348132

امنيتي ستونزې شتون نه درلود، مګر بيا هم د ياد بند چارې په خپل وخت ترسره نه شوې، او يوازينی لامل يې پڅه څارنه او د فساد شتون وو چې ياد بند جوړېدل يې تر اوسه وځنډاوه.

## څه بايد وشي؟

که وکتل شي د افغان متخصصينو د ظرفيت جوړونې په برخه کې په ميلونونو ډالر مصرف شول خو بيا هم د افغانستان برېښنايي شبکو ډيزاين او طرحو جوړولو په برخه کې د افغان متخصصينو پر ځای بهرنيو ډونرانو ستره ونډه درلوده. د امريکا د اوريګون پوهنتون د ماسټرۍ پروګرام فارغ او د انرژۍ د سکټور متخصص ښاغلی محسن امين پروينا، نړيوالو مالي ادارو د نړيوال بانک په ګډون هيڅکله و نه غوښتل ترڅو په افغانستان کې دننه د برېښنا لوی بندونه جوړ شي.[6]

که په رېښتونې توګه وغوښتل شي ترڅو په داخلي کچه د برېښنا توليد کچه زياته شي، او په وارداتي برېښنا تکيه کمه شي، اړينه ده ترڅو د داخلي اوبو بندونو جوړېدو او ساتنې لپاره د ټول ګټو پروژو ساتنې ادارې پرته يوه داسې ځانګړې امنيتي اداره رامنځ ته شي، چې نه يوازې د بندونو امنيت ټينګېدو بلکې د فساد مخنيوي په برخه کې هم ګوټلي ګامونه پورته کړای شي. مخالف مسلح ځواکونه چې د ټول ګټو پروژو ترسره کېدو په برخه کې ځانګړې سلنه ترلاسه کول غواړي بايد د اوبو بندونو جوړېدو په برخه کې د ياد سهم اخيستو څخه په کلکه ډډه وکوي[7] او د بندونو ساتنې په برخه کې هر اړخيزې مرستې ته چمتوالی څرګند کړي، دا کار کولی شي په داخلي کچه هغه کسان رسوا کړي چې د بندونو جوړېدو په برخه کې فساد ترسره کوي، او نه غواړي افغانستان دې په داخلي برېښنا تکيه وکوي. اړينه ده چې افغان حکومت په يو وخت کې د زياتو بندونو چارو پيل کېدو څخه ډډه وکوي ځکه تېرو کلونو کې وليدل شول چې دې کار يوازې کمپاينې اونمايشي بڼه درلوده، او ځينې بندونه چې

---

[6] – ګردی ميز – چې د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړونو مرکز په ابتکار جوړ شوی وو. (کال 1397 هـ ش)

[7] https://www.pajhwok.com/en/2020/08/03/decade-7pc-work-dam-costs-1b-afs



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

چارې يې کلونه وړاندې ترسره شوې وې مګر د تېرو لسيزو ناخوالو له امله زيانمن شوي وو د يادو بندونو رغونې چارې هم په سمه توګه ترسره نه شوې. په يو وخت کې کمزوري اقتصادي او امنيتي وضعيت ته په کتو دې په هغو کم شمېر بندونو کار ګړندی کړای شي چې وخت ته په کتو زيات ګټور تماميږي. دا کار کولی شي د بندونو جوړېدو په برخه کې پاملرنه ځانګړې کړي او کمزوری اقتصادي وضعيت له ننګونو څخه وژغوري. د بندونو جوړېدو په برخه کې بايد عام وګړي په ملي روحيه د بندونو ساتنې لپاره وهڅول شي او په اوس وخت کې هغه وګړي چې برېښنا ته لاسرسی لري، د واردېدونکې برېښنا مصارف بايد په خپل وخت اداء کړي، د فساد مخنيوي لپاره بايد افغان حکومت نور اړين ګامونه پورته کړي ترڅو په بهر کې د افغانستان نوم ته نور زيان وا نه اړوي. غضنفر ګروپ د نړيوال بانک سره د برېښنا توليد په برخه کې د نړيوال بانک سره يو هوکړه ليک لاسليک کړ چې له مخې به يې په مزار شريف کې د 89 ميلون ډالرو په کچه د برېښنا توليد په برخه کې پانګونه ترسره کوي، افغان حکومت بايد خصوصي سکتور نور هم وهڅوي ترڅو په دې برخه کې لا زياته پانګونه ترسره کړي او د هغوی امنيت په برخه کې دې کوټلي ګامونه واخلي.[8]

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[8] https://ifcextapps.ifc.org/IFCExt/Pressroom/IFCPressRoom.nsf/0/52551D37792EEDA58525858A004249CF

# فساد اداری؛ وضعیت بحرانی اقتصاد کشور را بحرانی تر می سازد



به تاریخ ۲ سرطان سال جاری برق و کمره های امنیتی بانک مرکزی به مدت چهار ساعت به گونه یی بی پیشینه غیر فعال گردیده است. بانک مرکزی افغانستان بعد از گذشت بیش از ده روز به گزارش ها در مورد خاموش شدن کمره های امنیتی این بانک، واکنش نشان داده و گفته است تعداد محدودی از کمره های امنیتی برای چند ساعتی با مشکل فنی رو به رو شده بود. همچنان بانک مرکزی به تاریخ ٦ اسد سال جاری در خبرنامه ای گفته است که خاموش شدن کمره های امنیتی برای مدت چهار ساعت، صحت ندارد. در این خبر نامه آمده است، که شمار محدودی از کمره‌های امنیتی این بانک برای ساعاتی به دلیل بروز مشکل فنی، از فعالیت باز مانده است. بانک مرکزی تاکید کرده است که پس از ارزیابی‌ها مشخص شد، در این مدت به دارایی‌ها و داشته‌های بانک آسیب نرسیده است[9].

[9] http://dailyafghanistan.com/national_detail.php?post_id=153547

با وجود این که بانک مرکزی در اعلامیه خود بیان نمود که بر اساس بررسی های مفتشین، هیچ نوع آسیبی به دارایی ها و داشته های بانک مرکزی در جریان غیر فعال بودن کمره های امنیتی وارد نشده است، اما این گزارش با واکنش شمار زیادی از کاربران فضای مجازی همراه شده است و آن ها خاموش شدن کمره های امنیتی را زمینه سازی برای فساد در بانک مرکزی عنوان می نمایند. فساد پدیده ایست که در تمام کشورهای جهان به میزان و اشکال متفاوت وجود دارد، اما، افغانستان کشوری است از جوانب مختلف با مشکلات بیش از حد و متفاوت مواجه است، از جمله آنها؛ مشکل فساد اداری به صورت گسترده در ادارات موجود می باشد.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## وعده هایی که جامهٔ عمل نپوشید

رئیس جمهور؛ محمد اشرف غنی در منشور انتخاباتی خویش، در کل۱۹ وعده را در مورد مبارزه با فساد اداری سپرده بود و در این مورد روی دو نکته(حسابدهی و شفافیت)تاکید کرده بود. در این منشور، ثبت نشدن دارایی‌ها به گونهٔ شرعی و قانونی و نبود یک سیستم موثر حقوقی، عوامل اساسی فساد اداری در کشور عنوان شده بود و به همین دلیل برای مبارزه با فساد اداری گام‌های زیر را در راهکار خویش بیان کرده بود:

- اصلاحات در وزارت عدلیه، لوی سارنوالی، محاکم و پولیس؛
- ثبت اراضی، جایدادها و دارایی‌ها به گونهٔ شرعی و قانونی؛
- بررسی قراردادهای دولتی؛
- جلوگیری از قاچاق و صادرات غیرقانونی؛

- کنترول بندرها و شاهراه‌ها از طریق ارگان‌های مربوطه؛
- برداشتن گام‌ها برضد خرید و فروش بست‌های دولتی[1].

پس از تشکیل حکومت وحدت ملی، رئیس جمهور غنی راهکار مبارزه با فساد اداری خویش را یک بار دیگر در کنفرانس لندن(۲۰۱۴ م)با ارائه مقاله اصلاحات خویش بیان کرد که در آن حدود ۲۰ وعده را در مورد مبارزه با فساد اداری سپرده بود.

با وجود اینکه در سال ۲۰۱۷ م اعلام شد که مردم افغانستان در سال ۲۰۱٦ م، بیش از بودجه دولت شان، رشوه پرداخت کرده‌اند و این رقم، نسبت به سال ۲۰۱۴ م، یک میلیارد دلار افزایش داشته، اما رتبه این کشور در فهرست سازمان شفافیت بین‌المللی، ۵ پله ارتقا کرده است. افغانستان در تازه ترین گزارش سالانه سازمان شفافیت بین‌المللی از نظر فساد در بخش دولتی، در میان ۱۷٦ کشور با کسب ۱۵ نمره جایگاه ۱٦۹ را از آن خود ساخته است(در سال ۲۰۱۵ م، این کشور نمره ۱۱ را بدست آورد و در رتبه سوم کشورهای فاسد قرار گرفت.)در سال ۲۰۱۸ م افغانستان با ۱٦ امتیاز از صد، در درجه ۱۷۲ همردیف سودان و گینه می باشد، و در سال اخیر سازمان شفافیت بین المللی در مورد فساد ۱۸۰ کشور جهان منتشر کرده است، در این گزارش آمده است: که افغانستان در سال ۲۰۱۷ م از ۱۰۰ امتیاز ۱۵ و در سال ۲۰۱۸ م این رقم به ۱٦ امتیاز افزایش یافت، اما در سال ۲۰۱۹ م پیشرفتی صورت نگرفته و افغانستان در همان جایگاه ۱٦ امتیازی قرار دارد. به گفته این سازمان بر اساس شاخص های جهانی فساد، افغانستان همچنان در میان ۱۰ فاسدترین کشورهای جهان قرار دارد[10].

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[10] https://www.radiozamaneh.com/485760

## ادارات مبارزه با فساد، کاری را به پیش نبرده اند

در حال حاضر ادارات متعدد مبارزه با فساد وجود دارد که می توان از آنها چنین نام برد: اداره عالی مبارزه با فساد اداری، شورای عالی مبارزه با فساد، قوهء قضایه، تفتیش داخلی تمام نهاد های دولتی، اداره عالی تفتیش و برخی از نهاد های دیگر... این نهاد ها در حالی فعالیت دارند که دامنه فساد در کشور روز به روز افزایش می یابد. با وجود فعالیت این ادارات، وضعیت کنونی فساد در کشور سبب شده است که اعتماد مردم نسبت به اداره های دولتی کاهش یابد و بی تفاوتی، تنبلی و بی کفایتی را در جامعه ایجاد نماید و ارزش اخلاقی جامعه متزلزل گردد. همان طوری که فساد مانع سرمایه گذاری بوده و مانند سرطان هرجا ریشه دوانیده، در حدی که دیگر مقابله با آن امری مستحیل به نظر می رسد.

سریراک پلی پات رئیس آسیایی سازمان بین المللی شفافیت چند سال قبل گفته بود: «نظام قضایی افغانستان و ادارات مبارزه با فساد اداری نیاز به اصلاحات گسترده دارد، و هم اکنون برای مبارزه با فساد کارایی خود را از دست داده و تا هنوز هیچ مفسدی به دادگاه های این کشور کشانده نشده است.» اما جسلن مسن، معاون پروگرام انکشافی سازمان ملل متحد (UNDP)در افغانستان عدم موجودیت یک طرح واضح و مشخص و نبود یک راهکار جامع در دولت افغانستان را مشکل اساسی افزایش فساد اداری می داند[11].

رئیس جمهور غنی زمانی به قدرت رسید که بر بنیاد گزارش های سازمان های بین‌المللی، افغانستان در صدر کشورهای فاسد جهان قرار داشت. از جانب دیگر، حکومت رئیس جمور غنی برای جلب کمک‌های مالی جامعهٔ بین‌المللی نیز، نیازمند مبارزهٔ قاطعانه و ریشه کن کردن فساد اداری در افغانستان بود. ازین

[11] http://www.pajhwok.com/dr/opinions/%D8%A8%D8%B1%A7

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

رو، هرچند در دورۀ چهار سالۀ حکومت وحدت ملی هر چند گام‌هایی در راه مبارزه با فساد اداری برداشته شد، ولی بنابر دلائل مختلف کاستی‌ها و مشکلاتی نیز در این عرصه وجود داشت و به همین دلیل، مبارزۀ حکومت با فساد اداری در کل موفق نبود و اکنون نیز افغانستان یکی از فاسدترین کشورهای جهان محسوب می شود. در کنار فعالیت موثر که حکومت داشته است به صورت خلاصه می توان بیان نمود که: کاستی‌ها در ساختارهای نظام اداری افغانستان بیشتر وجود دارد که خود فسادزا بوده، به ندرت در سازمان های اداری می توان بدون پرداخت رشوه، کاری را پیش برد. در بسیاری از ادارات، سازمان ها، وزارت خانه ها، شاروالی ها، نهاد های امنیتی، ترافیک، اعطای پُست ها در سازمان های مختلف حتی در دانشگاه ها تنها رشوه و روابط به جای ضوابط، در انجام امور اداری کارساز است. به صورت علنی از شهروندان رشوه مطالبه می کنند. و همچنان برای بست های اداری؛ بیشتر اوقات متقاضیان به اساس شایستگی نه، بلکه براساس پشتوانه های سیاسی و روابط تعین می گردند. احراز برخی مشاغل و یا عضویت در هیئت مدیره‌های گوناگون با عناوین مختلف همچون مشاورکه با هدف ایجاد رابطه و سوء استفاده از موقعیت وظیفه‌ای صورت می‌گیرد، امری متداول است. مبارزه با فساد قبل از هر چیز مستلزم شناسایی عمیق فساد وهمین طور شناسایی افراد فاسد و سوء استفاده کننده است، بنابرسوء استفاده از موقف شغلی؛ حقوق اجتماعی، اقتصادی و سیاسی شهروندان نقض و یا حق مسلم فرد یا گروهی به آسانی پایمال یا به ناحق، به دیگری واگذار می شود که خود نقض قوانین درافغانستان است.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

## نتیجه

با وصف مشکلاتی که در امر مبارزه با فساد اداری در دور اول حکومت آقای محمد اشرف غنی وجود داشت؛ روی هم رفته در بعضی عرصه ها فساد اداری کم شد یا حد اقل گراف آن پایین آمد. اما در دورهء

دوم حکومت وی که چند ماهی از آن سپری شده؛ نه از تعهد مبارزه با فساد حرف زده می شود و نه هم اقدامات عملی ای درین زمینه دیده می شود. برخلاف؛ راپورهایی در رابطه به موارد جدید فساد، وقتاً فوقتاً از طریق رسانه ها به نشر می رسد. شاید یکی از علل ازدیاد فساد، مصروفیت آقای محمد اشرف غنی و تیم همکارش تلاش بخاطر دوام حکومت فعلی و مدیریت قضیهء صلح به نحو دلخواه شان باشد. شاید جار و جنجال ها با آقای عبدالله، عبدالله و سپیدار نشینان نیز شاید یکی از علل این بی توجهی را تشکیل دهد.

سران حکومت باید بدانند که فساد روز افزون؛ در کنار فشارهای اقتصادی ناشی از وبای کرونا و هم چنان فشار ناشی از جنگ و کشتار؛ مردم افغانستان را در اوج بدبختی قرار داده است. ارگ اگر نمی تواند و یا نمی خواهد کار مؤثری بخاطر قطع جنگ و تحقق صلح در کشور انجام دهد؛ حد اقل باید دست عمال خود را از فساد اداری و دستبرد به دارایی های عامه کوتاه ساخته، وضعیت اقتصادی کشور را که بخاطر کرونا بحرانی شده است؛ بحرانی تر نسازد.

---

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز يو غير انتفاعي، غير حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هش کال کې تأسيس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو ارزولو او د هغو د پراختيا لپاره فعاليت کوي. د مرکز يوه موخه دا هم ده چې د نويو څېړنو او پاليسيو تر منځ داسې ارتباط قايم شي چې په پايله کې د هېواد په کچه ټولې پاليسۍ په مطالعې ولاړې او اکاډيميکو اصولو برابرې شي.**

## اطلاعیه

به آگاهی تمام جهات معنی رسانیده می شود که مرکز مطالعات استراتیژیک ومنطقوی (CSRS) فقط دارای دو ایمیل رسمی به تفصیل ذیل می باشد:

**csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com**

مطالب و پیام هاییکه احیاناْ از آدرس (CSRS) با ایمیل های مشابه صادر می گردد؛ جعلی بوده و قابل اعتماد نمی باشد.

با احترام

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)